

# دنکتایی شرعی حکم

مؤلف

ابومحمدنورالحق مظهری

www.nasirhashemi.blogfa.com

دانلود

فرهنگ اسلامی

www.nasirhashemi.blogfa.com

ما را در فیسبوک دریابد

ISLAMIC CULTURE

FB/ISLAMIC.CULTURE786

FB/Zohaibhashemi

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله الذی هدانا لهذا وماکنالنهتدی لولا أن هداناالله والصلوة السلام علی خیرخلقه محمد وآله وصحبه وعلی من والاه. اما بعد:

درنو اوقدرمنو مسلمانانو وروڼو!

لکه څرنگه چی الله پاک إسلام اوکفر سره متناقض اومتفاوت گرځولیدی، پدی معنی: چی دچاسره اسلام وی نودهغه سره بیا کفرنشته، اودچاسره چی کفروی دهغه سره بیااسلام نشته، اوداغه ډول یی تقوا اوعصیان سره متناقض گرځولیدی، یعنی چی دچاسره تقوی وی دهغه سره نوبیا عصیان نشته اودچاسره عصیان وی نودهغه سره بیا تقوی نشته، همدا راز الله پاک هغه خلک چی مسلمانان دی دهغو خلکوڅخه متمایز اوجدا گرځولیدی چی کافران دی، هم په عقیده اوعمل کی اوهم په ظاهری بڼه کی، پدی معنی سره چی مسلمانان باید تل ځان داسی جوړکړی چی دکفاروسره یی فرق اوتمییز وسی ، یعنی هرهغه شئ چی کافر یی اغوندی اوهغه ددوی دخصوصیاتو اوعقایدو څخه وی نومسلمان باید دهغه شیانو داستعمالولو څخه په کلکه ډډه وکړی ، همداراز هغه کارونوکی چی دمتقی مسلمان مشابهت راوړی دیو عاصی اوگنهگار انسان سره لکه متکبرین، اهل بدعت اواهل هوی البته هغه شیان چی دغو گنگارو خلکو خارج ددین څخه دځانه څخه خپل دامتیاز اونفسانی غوښتنی پربنسټ جوړکړیوی متقی مسلمان باید دهغه څخه پرهیز وکړی ، داځکه چی ددی څخه ډیر سخت ممانعت راغلئ تر داسی اندازی پوری چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایی: من تشبه بقوم فهومنهم. یعنی څوک چی ځان دهرقوم سره مشابه کړی نودئ دهغه قوم څخه دئ. اوبل حدیث کی راځی : لیس منا من تشبه بغیرنا لا تشبهوا بالیهود ولا بالنصاري فإن تسلیم الیهود الإشارة بالأصابع وتسلیم النصاری الإشارة بالأکف.یعنی زمونږڅخه ندئ هغه څوک چی مشابهت په غیرزمونږسره



www.nasirhashemi.blogfa.com

وکړی، ځانونه مه مشابه کوئ په یهودو اونصاراوو سره، سلام دیهودو اشاره ده په ګوتوسره اوسلام دنصاراوو اشاره ده په لاس سره. یعنی دسلام پرځای چاته لاس اویاګوتی مه پورته کوئ. بلکه په خوله باندی " السلام علیکم " سره سلام وکړئ. اوس پدی حدیث کی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دهغه طریقی څخه مونږ منعه کوی کومه چی یهود اونصاری یی استعمالوی کڅه هم پدی حدیث کی داتفصیل سته چی :که څوک په خوله سلام کوی اولاس ورسره پورته کوی نوبیاپدی کښی کوم مشکل نشته،
اوداشرعاروا دی.چی داسی خپله رسول اکرم صلی الله تعالی علیه وآله وصحبه وسلم هم کړی دی چی په مسجدکی ښځی ناستی وی ، نورسول اکرم (ص) چی کله پردوی تیریدی نوپه لاس باندی یی ورته سلام وکئ، چی پدی کی علماء همدغه توجیه کوی، چی ددی لاس پورته کولوسره دخولی تلفظ هم وو.
چی همداسی په فتح الباری ، فیض القدیرشرح جامع الصغیرکښی راغلی دی.
خوهغه قسم سلام چی اوس په مابین کی دځنی خلګو(لکه دسپورت کوونکی) رواج دئ، چه کله دوی خپل کلب ته داخلیږی نودسنت سلام پرځای خپل ځانونه کږه وی اولاسونه سره یوځای کوی پرنامه ئی نیسی اویاداسی نوری طریقی دظاهری احترام چی دکفاروڅخه په تقلید رانقل سویدی نوداقسم سلام شرعاً حرام دئ.
خوپه هرصورت ددی حدیث په تطابق دنورو هغه احادیثو سره چی پکی دمطلقی مشابهت څخه منعه راغلی وی داسی برداشت کیدلای شی، چی دکفارو سره مشابهت حرام اوناروا دئ، البته په هغه شیانو کی چی دینی بڼه ولری، کوم شیان چی دانسانی نوعی تقاضاوی په هغو کی مشابهت مذموم ندئ لکه چی کفار په موټرانو سوریږی مونږ هم پکی سوریږو، کفار په طیارو کی سوریږی مونږهم سوریږو، اویا په ځینو نورو خوراکی توکو کی چی دوی یی هم خوری مونږ یی هم خورو، پدی شیانو کی مشابهت شرعا ممنوع

ندئ، بلکه دیته سړی مشابهت نسی ویلای ځکه چی ددی شیانو څخه استفاده کول دهرانسان انسانی اوبشری حق دئ، فرق نلری که هغه انسان مسلمان وی اوکه کافروی، کوم مشابهت چی هغه شرعا حرام دئ هغه دئ چی په دینی امورو کی وی یاپه هغه قسم لباس اوخوراک کی وی چی هغه دکفارو دخصوصیاتو څخه وی او په دوی کی یو دینی حیثیت اویوه مذهبی بڼه ولری ، یعنی هغه شیان چی په هغه باندی کافر پیژندل کیږی، چی یوقسم دهغه لباس څخه چی په کفاروکی عقیدتی بڼه لری هغه ټوکردئ چی اوس یی خلګ په غاړه کوی او په عامه اصطلاح کی ورته "ټایی" یا " نکټایی" وایی، ددی لباس دعقیدتی بڼی تفصیل داسی دئ، چی دوی دغه لباس پدی عقیده په غاړه کوی چی عیسی علیه السلام وژل سوئ دئ اوپه دار باندی ځړول شوئ دئ، یهود وایی مونږ وژلئ دئ، نودا دځان لپاره یو افتخار بولی ، اونصاری وایی عیسی علیه السلام زمونږ لپاره ځان قربان کړئ دئ، نو دوی هم پدی باندی فخرکوی او وایی: څوک چی عیسوی سو، نور چی هرڅه کارونه وکړی معاف دئ ځکه چی عیسی علیه السلام یی په حق کی ځان قربان کړئ دئ، هره ګناه یی عیسی علیه السلام په غاړه اخیستی ده، ځکه دوی پخوا دځانه سره طلیسم دصلیب ګرځوی چی بیا وروسته چی کله دوی دغه اوسنی مادی اوظاهری دنیوی ترقی وکړه ، اوپه اصطلاح دبی عقلانو متمدن شوه نویی هغه پخوانی اصطلاح ده صلیب چی د اوسپنی اویا لرګی اوبل درانه شی څخه به یی جوړوئ پرینبوده اوپرځای یی دغه سپک ټوکر راواخیستئ چی سپک هم دئ او ددوی په فکر څه زینت هم پکی سته، نو په کومه عقیده چی دوی دغه نکټایی تړی دغه عقیده صراحتا دقرآن خلاف ده ځکه قرآن خو وایی: وماقتلوه وماصلبوه ولکن شبه لهم. یعنی دوی نه عیسی علیه السلام وژلئ نه یی هم په دار ځړولئ بلکه دوی ته مشابه کړل شو، یعنی خدای پاک یی شبه پربل


www.nasirhashemi.blogfa.com

چاواچوله چی دوی هغه مړکئ ، الله پاک عیسی علیه السلام یی و آسمانونو ته پورته کړئ.

البته ددی لپاره چی ستاسو سرښه خلاص شی ، نکټایی اودهغی حکم ښه درته معلوم شی نولاندی تحقیق په غورباندی مطالعه کړئ ، الله پاک دی مو دخپلو مخلصو بندګانو څخه وګرځوی. آمین.

## دنیکټایی تعریف:

نیکټایی هغه اوږد ټوکر دئ چی غاړی ته اچول کیږی اوپرغاړه باندی ترزنی لاندی پرځګر سربیره غوټه ورکول کیږی، اوپه مختلفو رنګونو په بازارونوکی خرڅیږی[ویکی پډیا]

## دنیکټایی نومان:

نکټایی هم دنورو شیانو غوندی په هرژبه کی یوخاص نوم لری چی څودانی یی په لاندی ډول دی:

په عربی کی ورته : ربطة العنق، الكرفتة، الغرافة. ویل کیږی.

په فارسی کی ورته : کراوات اونکتایی ویل کیږی.

په پښتوکی ورته : نکټایی یا ټایی ویل کیږی.

په انګلیسی کی ورته : Neck Tie ویل کیږی.

په فرانسوی کی ورته : Cravate ویل کیږی.

په روسی کی ورته : Галстук ویل کیږی.

په اسپانیایی کی ورته : Corvatta ویل کیږی.

په کرواتی کی چی لومړنئ ژبه ده چی پکی نکټایی پیداشویده Kravata ویل کیږی.

## دنکټایي تاریخ:

دنکټایي دلومړنی پیل اووجود په هکله دعلماؤ اومؤرخینو اختلاف دئ، خوپه ټولوکی دوه نظره ددی وړدی چی باور  وربالندی وشی چی زه یی دعربی څخه پښتوژباړه ستاسو په خدمت کی ایږدم:

## لومړنئ نظر:

کوم شئ چی ورته اوس نیکټایي ویل کیږی هغه هم دجملی څخه دهغه لباس ده چی خاص په کفارو پوری دی، ځکه ماپه ځینو تاریخی کتابونوکی چی پدی هکله لیکل شویدی، لوستلی دی چی دغه نکټایي پر ځای دصلیب راغلیده، ځکه چی دوی مخکی خپل په غاړه باندی دصلیب علامه چی دلرګی اویا نورو شیانو څخه یی جوړول زړول، بیاچی کله دوی اوسنی ترقی اوپیشرفت وکئ، اوپه اصطلاح متمدن شوه، نو هغه دصلیب علامه وربالندی درنه شوه نویی یوشئ په نامه د " فوونکا " اویادهغه سره مشابه چی اوږد ګل یی درلودئ اولاندی به یی اوږد تار زړیدئ دصلیب پرځای استعمالوئ ، بیایی وروسته د " فوونکا " څخه اوسنی نکټایي جوړه کړه، اودوی یی دترلو لپاره داسی کړی چی په لاندی جانب کی به غوټه لری او مابین به یی د رسی غوندی زړیږی، نودوی دغه قائم مقام دصلیب ګرځولیده، نوځما په نظر ددی استعمال دمسلمانانو لپاره نه رواکیږی.

[د الشیخ الدکتور سلیمان بن سلیم الله الرحیلي - حفظه الله دږغیږ درسونو دمجموعی څخه چی دحج په موسم کی یی په مسجد نبوی شریف کی کړیدی.]

چی دغه یی ددرس د کښته کولو لپاره ترون دئ:

http://www.archive.org/download/shar...-3-osoul_16.rm[/URL

[ملتقی اهل الحدیث www.ahlalhdeeth.com/vb/showthread ]

## دویم نظر:

اصل تاریخ د نکټایی راجع کیږی ولومړیو ته د شپاړسم قرن چی حدودا په مابین کی د1618 – 1648 کلونو کیږی، چی هغه د اروپایی جنګونو وقت وو چی تقریبا دیرش کاله وغځید، پدی جنګونوکی د" کرواتیانو" لښکر دداسی ټوکر څخه استفاده کوله چی هغه یو اوږد ټوکروو چی داوسنی نکټایی په ډول به یی خپل پرغاړه باندی تړئ، چی اصل ددغه "ربطة العنق" (نکټایی) چی هغه "کرافات" ده د کلمی څخه د " کراوات " جوړشوئ دئ ، اودا جنګونه ډیر سخت اودرانه وه ترداسی اندازی پوری چی د "کرواتیانو" لښکر چی به څوک اعداموئ نوبه یی دغه خپل ټوکر غاړه ته ورواچوئ او وبه یی زړ وی، نوددغه ځای څخه هم انګلیسی اصل ددغی کلمی راغی چی Necktie (یعنی دغاړی تړونکئ دسمال ځکه Neck په انګلیسی کی مغزی ته وایی اوTie دسمال ته وایی. اولښکر دکرواتیانو په اروپاکی ډیر خپاره شوه په ځانګړی توګه په پاریس کی، نو دفرانسی خلګوته ددوی دغه دسمال خوند ورکئ، ترداسی اندازی پوری چی په زمانه کی "دشپاړسم لویس" یی دا دمشرانو او غټو خلګو لپاره رسما ځانګړئ لباس وګرځوی اوپرهغه یی د" آ لا کروات " (a la croate) نوم کښیښودئ، داغسی په مرور سره دزمان آخر عامو خلګو ددی لباس څخه استفاده کوله ، چی بیا فرانسویانو ورته " کراوات "Cravarte ویل او ددی دتړلو ډیر طریقی دی.اوعربوهم داروپایی استعمار په وقت کی نکټایی وپیژندله.

[ ویکی پډیاعربی www.wikipidia.com]

اوس نظر ولومړنی قول ته چی پکی ویل شوی وه چی نکټایی دکفارو یوعقیدتی لباس دئ، نومعلومه خبره ده چی استعمال یی مسلمانانوته دنورو عقیدتی کالو په شان حرام اونارو ا

دئ، اونظر ودویم قول ته چی دلومړی ځل لپاره نکټایی کرواتیانو جوړه کړیده، هم دغسی معلومیږی چی هغوی بناء پریوه مفکوره اوعقیده ددی څخه استفاده کوله، ځکه چی هغوی هم عیسویان وه ، چی اوس ورته کرواسی وایی، اوس هم عیسویان دی، نو په مابین کی دپورتنی دوو قولونو تعارض هم نشته، ځکه چی امکان لری چی کومو خلګو چی نکټایی استعمالول لکه کرواتیان هغوی به پرځای اوعقیده دصلیب استعمالول لکه چی په لومړنی قول کی ویل شویوه، اوبیاچی کله دغه خلګ نوری نړیته ورسیدل نوبیا په نوری نړی کی هم ددوی دغه لباس خپور شو لکه چی ددویم قول څخه هم دغه معلومیږی، خو دومره تفاوت شته چی لومړنئ قول دیودینی عالم دئ هغه یی دحرمت اوتحلیل خبره کوی، نوځکه یی عقیدتی اودینی جانب ته اشاره کړی، اودویم قول دیو ازادخیالی ویب پاڼی دئ، چی په مذهب اوتحلیل اوتحریم باندی دشیانو کارنلری، نوځکه یی تنها تعریف اوعلت دتشهیر لیکلئ دئ، حرمت اویاتحلیل ته یی کومه اشاره نده کړی اونه یی پکی دکوم مذهب اودین خبره کړیده.

## په فقه کی دنکټایی مثالونه:

په فقه کی چی کوم شئ ذکر شوئ دئ چی حکم یی همدغه نکټایی ته ورته دئ، هغه " زنار ،" دئ، زنار دګوتی په اندازه پنډ تاردئ چی اهل ذمه اویا نصرانی یی خپل پرملا باندی تړی.

وفي البحر عن المغرب أنه خيط غليظ بقدر الأصبع يشده الذمي فوق ثيابه[ردالمحتار 207/4 المکتبة الشاملة]

ژباړه: بحر– نوم دکتاب دی – دمغرب – نوم دکتاب دئ – څخه نقل کړئ چی زنار په اندازه دګوتی پنډ تار دئ چی ذمی یی پرکالو لوړتړی.



www.nasirhashemi.blogfa.com

الزنار: بضم الزاي وتشديد النون، ج زنانير، حزام خاص يشده النصراني.[معجم لغة الفقهاء حرف الزاء]

ژباړه: زنار: په ضمه سره د زا اوتشديد سره دنون چی جمع يی زنانير راځی ، هغه تناب دئ چی نصرانی يی تړی.

فقهاء يی په هکله فرمايی:

وَبِوَضْعِ قَلَنْسُوَةِ الْمَجُوسِيِّ عَلَى رَأْسِهِ عَلَى الصَّحِيحِ إلَّا لِضَرُورَةِ دَفْعِ الْحَرِّ أَوْ الْبَرْدِ وَبِشَدِّ الزُّنَّارِ فِي وَسَطِهِ إلَّا إذَا فَعَلَ ذَلِکَ خَدِيعَةً فِي الْحَرْبِ وَطَلِيعَةً لِلْمُسْلِمِينَ [بحرالرائق باب احکام المرتدين]

ژباړه: اوکافرکيږی په ايښودلو سره دخولۍ دمجوسی پر خپل سرباندی پرصحيح قول، مګرداچی دپاره دضرورت ددفع کولو دګرمۍ او يا يخ يی پرسرکړی وی، اوهمداراز کافر کيږی په تړلو سره دزنار په خپل مابين(ملا) مګرداچی په جنګ کی دکفارو دخطاايستلو لپاره اويا دمسلمانان دپيشرفت لپاره يی وتړی.

کما إذا فرضنا أن أحداً صدق بجميع ما جاء به النبي عليه السلام وسلمه وأقر به وعمل، ومع ذلک شد الزنار بالاختيار أو سجد للصنم بالاختيار نجعله كافراً لما أن النبي عليه السلام جعل ذلک علامة التكذيب والإنكار.[شرح العقايد النسفية69]

ژباړه: لکه فرض يی کړو چی يوڅوک په هغه شيانو باندی چی رسول اکرم صلی الله عليه وسلم راوړيدی تصديق لری، اومنلی يی دی، اقرار اوعمل يی هم په کړئ دئ، خوسره ددی بياهم په خپل اختيار باندی زنار تړی اويايی په خپل اختيار بت ته سجده وکړه ، نومونږ دئ کافر بولو ځکه چی رسول اکرم صلی الله عليه وسلم، داشيان علامه د تکذيب اوانکار ګرځوليده.

## دنکتابي حکم دقران اوحدیث په رڼاکی:

تفسیرقرطبی د " تعرفهم بسیماهم " آیت په تفسیر کی لیکی: فیه دلیل على أن للسِّيما أثراً في اعتبار من يظهر عليه ذلک، حتى إذا رأينا ميتاً في دار الإسلام وعَلَيْهِ زُنَّار وهو غير مختون لا يدفن في مقابر المسلمين. [قرطبی سورة البقره273]

ژباړه: پدی آیت کی دلیل دئ چی دعلامی لپاره تأثیر سته په معتبرکولوکی دهغه چا چی دغه علامه ورباندی ښکاره سی، آن کچیری مونږ یو مړئ په دار کی داسلام ولیدئ، چی زنار یی تړلئ وو، اوسنت شوئ هم نه وو، نوهغه دی په هدیره کی دمسلمانانو نه پټیږی.

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُم مِّن بَعْدِ مَا جَآءَکَ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّکَ إِذاً لَّمِنَ الظَّالِمِينَ. [سورة البقرة 145]

ژباړه: کچیری ته ددوی دخواهشاتو متابعت وکړی ورروسته تردی چی تاته علم راسی نو په یقین باندی پدی وقت کی ته دظالمانو څخه یی.

اوس نکتایی هم یوه دغوښتنو اوخواهشاتوڅخه د یهودو اونصاراوو ده چی مسلمان ته نه ښایی چی په هغی کی دی ددوی متابعت وکړی.

اوپه حدیث کی راځی: عن عدي بن حاتم قال : أتيت النبي صلى الله عليه و سلم وفي عنقي صليب من ذهب فقال يا عدي اطرح عنک هذا الوثن [سنن ترمذی 3095]

ژباړه: عدی بن حاتم (رض) وایی زه درسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه راغلم پداسی حال کی چی ځما په غاړه کی دسروزرو صلیب وو، نو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای عدی! دغه بت دی دغاړی څخه وغورځوه.

اوس ددی حدیث څخه له واریه ښکاری چی نصاراوو صلیب په غاړه کوئ، اود علماؤ اومؤرخینو په وینا هغه یی دمختلفو شیانو څخه جوړوی لکه سره زر، سپین زر، لرګئ اویاتوکر، نومعلومه خبره ده چی دغه نکتایی چی اصل یی هم ددغه نصاراوو لخوا ایښودل

سوئ دئ، هم هغه صليب دئ ځکه دوی اوس داوسپنی اودلرګی صليب دځانه سره نه ګرځوی اوکه يی ګرځوی، هم ډير لږ خلګ يی دځانه سره ګرځوی.

عن أبي هريرة قال : قال رسول الله صلي الله عليه و سلم جزوا الشوارب وأرخوا اللحي خالفوا المجوس [ مسلم (1 /222)رقم 260]

دابوهريرة (رض) څخه روايت دئ چی رسول اکرم صلی الله عليه وسلم، وفرمايل: بريتونه لنډ کړئ اوږيری اوږدی کړئ، دمجوسيانو سره مخالف وکړئ.

اوس دامعلومه خبره ده چی دږيری سره نکټايی نه معلوميږی، نوداسی خلګ ډيرسته چی دنکټايی لپاره ږيره خره يی ځکه چی که يی ږيره وی نوبيا نکټايی نه معلوميږی، اوس پديکی يوه خپله دږيری خريل دی، بله دنکټايی تړل دی اوبله ګناه هم داده چی دنکټايی دتړلو لپاره ږيره خره يی نودږيری پريښودل تقريبا واجب دی، داغسی يی خريل ندی روا ، نوچی څوک يی دنکټايی لپاره خره يی اويايی لنډوی نو دابه څنګه روا شی؟.

همداراز په حديث کی راځی:

عن عامر قال سمعت النعمان بن بشير يقول سمعت رسول الله – صلي الله عليه وسلم – يقول الحلال بين والحرام بين ، وبينهما مشبهات لا يعلمها كثير من الناس ، فمن اتقي المشبهات استبرأ لدينه وعرضه ، ومن وقع في الشبهات كراع يرعي حول الحمي ، يوشک أن يواقعه . ألا وإن لكل ملک حمي ، ألا إن حمي الله في أرضه محارمه ، ألا وإن في الجسد مضغة إذا صلحت صلح الجسد كله ، وإذا فسدت فسد الجسد كله . ألا وهي القلب [صحيح البخاري (1 /101)رقم52 ]

ژباړه: عامر وايی: ماده نعمان بن بشيرڅخه واوريدل چی ده ويل: مادرسول اکرم صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چی ويل يی: حلال معلوم دی اوحرام هم معلوم دی، او په مابين کی ددوی دوو ځينی نامعلوم شيان سته چی ډيرئ خلګ نه په پوهيږی، چا چی ځان دنامعلومو شيانو څخه وساتئ نوهغه خپل دين او ابرو دواړه وساتل ، مثال دهغه چا چی په

نامعلومو شیانو کی واقع شی، لکه هغه شپون دئ چی دمنعه شوی ځنې ځای پرشا اوخوا ګرځی اونژدی وی چی ور ولویږی، خبراوسئ دهر باچا لپاره ځانګړئ منعه شوئ ځنې ځای دئ! خبراوسئ دالله ممنوع ځنې ځای دده په مځکه کی دالله محارم دی! خبراوسئ چی په بدن کی یوه ټوټه غوښه ده چی کله هغه اصلاح شی، ټوټوله بدن به ورسره اصلاح وی، اوکه هغه فاسده شی نوټوله بدن ورسره فاسد شی! خبراوسئ چی هغه زړه دئ!.

اوس نکټایی چی په هغه باندی دونه علماؤ دحرمت حکم کړئ دئ، بیایی نوولی مونږ واغوندو؟ چی د صریح حرمت څخه یی بالفرض تنزل وکړو نوپه مشبهاتو کی یی دخول خو یقینی دئ، نوبیاهم دځان ساتل ځنی ضروری دی.

دلته دیو معاصر عالم ناصر الفهد رحمه الله فتوی رانقل کوم چی دنکټایی پرحرمت یی ډیر ښه دلائل ویلی دی:

السوال: أسأل حول حكم لبس ربطة العنق مع التوضيح ولكم الأجر إن شاء الله

الجواب: لايجوز لبسها لأنها تشبه بالكفار وفي الحديث الصحيح (من تشبه بقوم فهو منهم) ، وفي حديث عبد الله بن عمرو بن العاص في الصحيح لما رأى عليه النبي صلى الله عليه وسلم ثوبين معصفرين قال له (إن هذه من ثياب الكفار فلا تلبسها) ، فعلل النهي عن لبسها بأنها من ثياب الكفار، وفي حديث أبي أمامة مرفوعا (تسرولوا واتزروا خالفوا أهل الكتاب) ، فمخالفتهم في اللبس مطلب للشارع، وفي البخاري عن عمر بن الخطاب أنه كتب للمسلمين في خراسان (إياكم والتنعم وزي أهل الشرک) ، والأحاديث في ذلک كثيرة ، ولا عبرة بانتشار لبس الكفار بين المسلمين ليقال بأنه لم يعد خاصا بهم فلا يكون تشبها بهم لأربعة أمور :

أولا: إنه ما انتشر بين المسلمين إلا عن طريق الكفار ، ولو سألت أي مسلم يلبس لبسهم كيف كان لبس جده لقال إنه لبس المسلمين لا لبس الكفار ، ولهذا يسمون هذا –لبسا إفرنجيا وبدلة



www.nasirhashemi.blogfa.com

إفرنجية ونحو ذلک.

ثانيا : إننا لو قلنا بهذا لعطلنا أحاديث النهي عن التشبه بالكفار في لبسهم وأصبحت ملغاة وهذا ظاهر جدا لأن الناس الآن أصبحوا كلهم إلا من رحم الله يلبسون لبسة الأوربيين.

ثالثا : أن مخالفة المسلمين للكفار في لبسهم وهيئتهم مطلب للشارع كما يعرفه من ينظر النصوص الواردة في الباب، فإن المشابهة في الظاهر تورد مشاكلة في الباطن كما ذكر شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله تعالى، والمسلم يتميز عن الكفار بهيئته لهذا كان الخلفاء الراشدون ومن بعدهم يلزمون أهل الذمة بأن يتميزوا ولا يتشبهوا بالمسلمين في لباسهم.

رابعا : أن أهل الحق والخير والعلم والسنة في هذا الزمن على اختلاف بلدانهم لا يلبسون لباس الكفار بل يلبسون لبس المسلمين والعبرة بهم لا بالفساق.

ژباړه:

پوښتنه: زه په باره کی دنکټايی دحکم سوال کوم هيله ده راته واضح يی کړی الله پاک به ستاسو مزدوری درکړی إن شاء الله.

ځواب: دنکټايی اغوستل نه رواکيږی، ځکه چی پدی کی دکفارو سره مشابهت راځی، اوپه صحيح حديث کی راغليدی ( هرڅوک چی ځان ديوقوم سره مشابه کړی، هغه دهغه قوم څخه دئ) اوپه صحيح حديث کی دعبدالله بن عمرو بن العاص راغليدی: کله چی رسول اکرم صلی الله عليه وسلم پرده باندی دوه جوړی په معصفرو رنګ شوی کالی وليدل نويی ورته وويل: ( داخو دکفارو کاليدی نوته يی مه اغونده! ) دلته رسول اکرم صلی الله عليه وسلم يی دنه اغوستلو علت دابيان کړئ دئ چی دغه کالی دکفارودی، اوپه مرفوع حديث کی دأبی أمامة راځی:(پرتوګ واغوندئ اولنګ وتړئ دکفارو سره

مخالفت وکړئ) نو دکفار سره مخالفت دشریعت اېښودونکی غوښتنه ده، اوپه بخاری
کی دعمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه څخه رانقل شویدی چی  ده، په خراسان کی
مسلمانانوته داسی ولیکل:(ځانونه د آسانی/ سهولت او لباس څخه دشرک وساتئ) اوپدی
باره کی احادیث بیخی ډیردی. خودلته اعتبار وخپریدلو ته د " نکټایی په مابین کی
دمسلمانانو نسته چی باره دی داسی وویل سی: چی داخو اوس خاص په کفارو پوری نده
(مسلمان هم ورڅخه اسفتاده کوی) نوپدی کی مشابهت نه راځی، پخاطر دڅلورو وجهو
ورته اعتبار نشته:

1.نکټایی په مابین کی دمسلمانانو بغیرله کفارو بل دهیچالخوا نده پخش اوخپره شوی، کچیری دیومسلمان څخه پوښتنه وکړی: چی ستا دنیکه کالی څنګه شیان وه؟ نوهغه به وایی: کالی دمسلمانانو نه دکافرانو، نوپدی خاطر دئ چی خلګ نکټایی انګریزی اوفرنګی اوداسی نورکالی بولی.

2. کچیری مونږ دغه خبره ومنو(چی نکټایی په مسلمانانوکی رواج سویده نوپدی خاطر دکفارو لباس ندئ) نوهغه أحادیث چی پکی دکفارو سره دمشابهت څخه نهی راغلیدی هغه مومعطل کړه اولغوه شوه، اودا ډیره معلومه خبره ده ځکه اوس خوغیرله هغه چاچی الله ورباندی خپل رحمت کړئ وی، نورټول خلګ د اروپائیانو کالی اغوندی.

3. دمسلمانانولپاره دکفارسره مخالفت دهغوی په لباس اوهیئت کی دشریعت دایښودونکی غوښتنه ده، لکه څرنګه چی دغه خبره هرهغه چاته معلومیږی چی پدی باره راغلی نصوص وګوری، ځکه چی په ظاهره کی مشابهت ، مشاکلت په باطن کی راوړی، لکه چی شیخ الإسلام ابن تیمیه رحمه الله ذکر کړی دی:مسلمان باید دکافره سره په هیئت کی فرق ولری، پدی خاطر خلفاء راشدینو اوکوم څوک چی ددوی وروسته


www.nasirhashemi.blogfa.com

راغلیدی، اهل ذمه یی پدی باندی مجبوره کول، چی باید ځان ته فرق ورکړی اودمسلمانانو سره په کالو کی مشابهت ونکړی.
4. اهل حق اوښه خلګ اوعلماء اوکوم خلګ چی پرسنتوبرابردی، زمونږ په وقت کی کڅه هم ښارونه یی سره مختلف دی، دکفارو کالی نه اغوندی، بلکه دمسلمانانو کالی اغوندی، نواعتبار هم دوی ته سته نه فاسقانو خلګوته (چی دکفارو کالی اغوندی).

# دنکټایی طبی اضرار

د CNN په یورپوټ کی ویل شوی، چی نوی تحقیقاتو ښودلی چی دنکټایی تړل کومه چی ډاکټران یی هم تړی، کڅه هم کله کله په ظاهره کی څه فیش اوموډ هم لری، خوکله کله داسی دمختلفو جراثیمو اومیکروبونو دتولید مرکز اوځای ګرځی چی دانسان صحت دخطر سره مخامخ کوی.

ستیفن نیرکن ، چی خپل نهایی تحصیلات یی دامریکی په یوپوهنتون کی کړیدی، وایی: دنکټایی په هکله د(طبی) بحث کولو اوتحقیق مفکوره هغه وخت راته پیداسوه، چی کله می د " نیویورک کوینز" په شفاخانه کی خپله دامتحان دوره تیروله، ځکه ماهلته ولیدل چی ټوله ډاکټران نکټایی تړی.

د"اسوشیتد پرس " درپوت پربنیاد ډاکترنیرکن 27 کاله دا ویل: کله چی ډاکټران دمریض دمعاینی کولو لپاره سرکښته کوی، نواکثره اوقات ددوی نکټایی یادمریض سره اویادهغه دبستر سره تماس نیسی چی په نتیجه کی ډیر مکروبونه اوجراثیم پوری مښلی. اوس کڅه هم ډاکتران وروسته تردی چی پرمریض باندی آثار دمریضی ووینی خپل لاسونه

پریوی، مګر اکثره اوقات دوی دیته نه خلاصیږی چی خپله نکتایی دی هم پریوی چی بیایی لاسونو ته هغه مکروب ورنسی چی په نکتایی پوری مبنتئ دئ.

نوموړئ زیاتوی: داچی ډاکتران خپله نکتایی دمریض دکتلو وروسته نشی پریولای اواصلاح کولای، په مکروب باندی ددوی دآلوده کیدلو خطر نورهم ډیره وی.

نوموړی دخپل نظریی دتأیید لپاره د دوخلوینبت ډاکترانو اوپه شفاخانه کی دلابراتوار دځینو نورو کارکوونکو نکتایانی د طبی څیړنی لپاره وړاندی کړی چی په نتیجه کی دا معلومه شوه، چی د20 نفرو یعنی 48 % نکتیایانو حد اقل یوقسم دمکروب دځانه سره درلودئ.
اوددی تحقیق سره همزمان نوموړی پرلسو نکتایانود نګهبانانو دشفاخانی اودځینو نورو هغو خلګو چی دمریضانو سره یی هیڅ نوع ارتباط نه درلودئ تحقیق اوڅیړنه وکړه چی په نتیجه کی داورته معلومه سوه چی یوی نکتیایی دځانه سره مکروب درلودئ.

دنوموړی دغه تحقیاتو ډیر اعتراضونه راوپارول چی دډاکترانو دنکتایی تړل شاید دمریضانو صحت ته هم خطرمتوجه کړی.

[/ http://travel.maktoob.com/vb/travel55943]

داکتر "سیعد شلبی " چی دمصر دقومی څیرنیز مرکز استاد دئ، توصیه کوی چی په ګرمۍ کیدی نکتایی نه تړل کیږی، ځکه دنکتایی په تړلوسره اوبیاپه خاصه توګه کله چی ټینګه تړلی وی جریان دوینی د غدهٔ درقیه مختل کیږی چی په نتیجه کی دهغی پرافرازاتو باندی تأثیرایږدی. نوموړی زیاتوی هغه مریضان چی ده غدهٔ درقیه په مریضۍ اویادصرع ، عصبی تشنج،داینۍ اوشکری په مریضی باندی مبتلاء وی هغوی ته دنکتایی تړل ډیر خطرناک

دئ.

[/ http://travel.maktoob.com/vb/travel55943]

ډاکتران وايي: ټینګ ترل دنکټایي کله کله خطر دړنديدلو ډيروی، ځکه چی تنګ والی دنکټایي ددی خطر ډيروی چی دانسان سترګی دی د شنواوبو(ګلوکوما) په مریضی باندی اخته شي یعنی دنکټایي په ټینګ تړلوسره جریان دويني دسر اوزړه ترمينځ ستونزمن کيږی چی په نتيجه کی دسترګوپر رګونو باندی فشار راځی چی هغه ته په علمی اصطلاح کی " ګلوکوما " وای، چی بالاخره سترګی ړنديږی، او نوموړی ناروغی دسترګو دړنديدلو ترټولو لوی اوغټ سبب دئ ځکه تنها په امريکاکی تقريبا دری مليونه خلګ پدغی ناروغی باندی اخته دی سره ددی چی عمر يی هم کم دئ.

ډاکتر" روبرت ريتش " چی دامریکا دنیویورک ښار دسترګو په شفاخانه کی کارکوی، وايي: دنکټایي ټینګ ترل په ټولو روغو خلګو کی دسترګو دنینک فشار لوړوی، اوهمدا راز په هغو خلګوکی چی د " ګلوکوما " په مریضی باندی مبتلاء دی، او امکان لری چی په تشخیص اومعالجی کی دګلوکومادی هم تأثير کښيږدی،(يعنی يادی پوره تشخيص ونسی اوکه يی تشخيض وسی علاج يی ستونزمن کوی) او نتائجو داسی ښودلی ده ، چی 60% هغه مریضان چی په ګلوکوما باندی اخته دی، او70% هغه خلګ چی جوړدی ددوی دسترګو دويني فشار وروسته ترټینګ ترلو دنکټایي پورته تللئ دئ. اوپه سترګو کی دويني دفشار لوړوالئ دهغه اساسی عواملو او اسبابوڅخه دئ چی کله کله دسترګو عصبی سيستم بيخی دمنځه وړی اودسترګو ليدل ورسره ختم کيږی، او علاوه پردی باندی چی دنکټایي ټینګ ترل انسان په ګلوکوما ناروغی باندی مبتلاء کوی، کله کله داسی کيږی چی دسترګو دمعاينی کولو په وقت کی دی تشخيص دناروغی هم غلط را ووځی.

دایټالیا دروغتیاوزارت ویلی: دنکټایي ایسته کول ډیر کمک کوی دهغه مبارزی سره چی په نړی کی دحرارت د درجی دلوړوالی په مقابل کی کیږی، همدا راز نوموړی اداری دکار دخاوندانو

ښځه غوښتنه کړی چی خپلو کارګرو ته دی اجازه ورکړی چی په دوبی کی عادی کالی واغوندی ترڅو دهوا دیخ کوونکو ماشینونو دچالانه کیدلو کچه را کښته سی ، کوم چی په اقتصادی لحاظ دبریښنا په استعمال کی اودمحیط په ساتنی کی مؤثر تمامیږی، نومورړی اداری ټولو عامه اوخصوصی دفاتروته لارښوونه کړی چی خپل کارګروته دی اجازه ورکړی چی په ډیری ګرمی کی نکټایی ونه تړی.

یوه مالیزیایی طبی ټولنه وایی: دنکټایانو تړل غیر صحی کاردئ ځکه چی نکټایی سبب دانتقال دډیرو مکروبونو کیږی دیوه شخص څخه وبل شخص ته په خاصه توګه ځنی ریوی او دوینی امراض چی کله کله یی سبب همدغه نکټایی کیږی.

[ http://www.asrare.com/man/164.html ]

اوس چی داثابته شوه چی نکټایی دانسان لپاره ډیر ضررونه لری، نویقینی خبره ده چی هغه تردی حدیث اوفقهی قانون لاندی راځی: لاضرر ولاضرار فی الإسلام.

یعنی په اسلام کی ځان اوبل چاته ضرر رسول نشته، اوس دلته په تړلو کی دنکټایی کوم ضرورت هم نشته ، چی څوک دی پدی قانون باندی استدلال ونیسی، الضروریات تبیح المحظورات، یعنی ضرورتونه ممنوعه شیان روا کوی، ځکه دنکټایی تړل په هیڅ یوه وقت ضروری ندی، غیر له هغه صورت څخه چی مجاهدین یی ددی لپاره په غاړه کی چی کفار دوکه کی او پرهغوی باندی حمله وکړی پدی صورت کی هیڅ مشکل نشته، ځکه " الحرب خدعة " یعنی جنګ خطاایستل دی، نو په جنګ چی هرډول کیږی باید مسلمان کوشش وکړی چی کافران خطاباسی، خوهغه څوک چی په یوی اداری کی دکارکولو لپاره دنکټایی تړل ضروری ګڼی، نوداځکه نه رواکیږی، چی دوظیفه دلاسته راوړلو لپاره انسانته نه رواکیږی چی دکفارو کالی واغوندی اویا دهغوی سره ځان مشابه کړی، ځکه


www.nasirhashemi.blogfa.com

دانسان رزق اوروزی په یوه ځانګړې وظیفه اومسئولیت کې ندئ ، بلکه دهرمشروع لارې څخه انسان کولای شي ، ځانته دځپل کور اعاشه پیداکړي. چې همدغه شرعا دانسان شرعي مکلفیت دئ.

**دنکټايي په اړه دعلماؤ فتواګانې**

1.الشيخ الدكتور سليمان بن سليم الله الرحيلي.

**نوموړی وروسته تربیان دتاریخ دنکټايي کوم چې مخکې مونږ دده په حواله ذکر کړئ داسې وايي: فأنا – يظهر لي والله أعلم – أنه لا يجوز للمسلمين أن يلبسوها.**

**ماته خوداسې معلومیږي چې دنکټايي اغوستل مسلمان ته نه رواکیږي. والله اعلم**

2. الشيخ ناصر الفهد.

**ددغه عالم فتوی مو مخکې هم ذکر کړه چې دئ دځپلې فتوی په اول کې وايي: لايجوز لبسها لأنها تشبه بالكفار. ددې اغوستل نه رواکیږي ځکه پدیکې دکفارو سره مشابهت راځي.**

3. الشيخ عبدالرحمن بن عبدالخالق اليوسف.

**نوموړی عالم وروسته تردې چې څوک ورڅخه دنکټايي په هکله سوال کوي داسې وايي: ربطة العنق من شعار ولباس الكفار، ولا يجوز للمسلم أن يلبسها لأن في هذا تشبه بهم. یعنې نکټايي دکافرانو شعار اولباس دئ، مسلمان ته دهغې اغوستل نه رواکیږي ځکه چې پدیکې دهغوی سره مشابهت راځي.**

[http://majles.alukah.net/showthread.php?40747]

4. الشيخ ناصرالدين الالبانی:

صورة أخرى من التشبه

لقد أصبح التشبه بالكفار أمراً سهلاً جداً، فضربت لكم مثلاً: (البرنيطة) ولننزل درجة، فنأخذ وضع العقدة هذه التي يسمونها (الكرفتة)، هذه ما المقصود منها يا ترى؟ لا شيء أبداً إلا أن هذا زي كافر نقله الكفار حينما استحلوا بلادنا، فزين الشيطان لنا ذلک الزي فقلدناهم وتشبهنا بهم.

ژباړه:

بل صورت دمشابهت دکفارو سره:

اوس خو دکفاروسره مشابهت یو ډیر آسانه اوهوسی کار ګرځیدلئ، زه یی تاسوته یو مثال وایم: انګریزی خولۍ (رخچینه) او یو درجه چی کښته شو نودغه غوټه به راواخلو کوم چی خلګ ورته نکټایی وایی ددی څخه مقصد څه شئ دئ؟ بل هیڅ مقصد ځنی نشته غیرلدی څخه چی دغه لباس دکافر دئ چی کفارو زمونږ ښارونو ته دځانه سره راوړئ دئ هغه وقت چی زمونږ ښارونه یی اشغال کړل.

نودغه ددوی لباس شیطان مونږ ته ښایسته کړئ مونږ یی هم تقلید وکئ او ځانونه مو ددوی سره مشابه کړل.

[دروس الشيخ محمدناصر الالبانى المكتبة الشاملة]

# تفریعات

1. ولو التقطه مسلم فادعى نصراني أنه ابنه فهو ابنه وهو مسلم لما تقدم ، وإن كان عليه زي النصارى كالصليب والزنار فهو نصراني ، لأن الظاهر أنه ولد على فراشه ولا اعتباربالمكان .[ألإختيار لتعليل المختاركتاب اللقيط]

ژباړه: کچیرې غورځول شوئ ماشوم مسلمان پیداکئ نونصرانی دعوه په وکړه، چې دغه یې زوی دئ، نودنصرانی زوی دئ خومسلمان دئ، لکه څنګه چې مخکې تیره شوه(ځکه چې پدې کې یې منفعت دئ) اوکچیرې پرده باندې لباس دنصاراوو وو لکه صلیب او زنار نوبیا نصرانی دئ، ځکه دظاهره څخه داسې معلومیږې چې دنصرانی پرفراش زیږیدلئ دئ وځای ته اعتبار نشته.

2. وَإِنْ كَانَ إِسْكَافًا أَمَرَهُ إِنْسَانٌ أَنْ يَتّخذَ لَهُ خُفًّا عَلَى زِيِّ الْمَجُوسِ أَوْ الْفَسَقَةِ أَوْ خَيَّاطًا أَمَرَهُ أَنْ يَتَّخِذَ لَهُ ثَوْبًا عَلَى زِيِّ الْفُسَّاقِ يُكْرَهُ لَهُ أَنْ يَفْعَلَ لِأَنَّهُ سَبَبُ التَّشَبُّهِ بِالْمَجُوسِ وَالْفَسَقَةِ.[ردالمحتارفصل فی البیع، الشاملة]

ژباړه: کچیرې یوسړی بوټ جوړوونکئ پدې باندې امر کړئ چې ده ته دی دمجوسیانو اویا دفاسقانو په ډول موزې جوړې کړې، اویا یوسړې خیاط ته وویل: چې ده ته دې دفاسقانو په ډول قمیص جوړکړې، نو دده (بوټ جوړوونکی ، اوخیاط) لپاره دا کارمکروه (حرام) دئ، ځکه داسبب دمشابهت دمجوسیانو اوفاسقانوسره دئ.

3. وَفِي الْمَبْسُوطِ كَمَا لَوْ اخْتَلَطَ الْكُفَّارُ يَعْنِي مَوْتَانَا بِمَوْتَاهُمْ فَإِنَّهُ يُعْتَبَرُ بِالزِّيِّ وَالْعَلَامَةِ.[البحرالرائق کتاب اللقیط]

ژباړه: په مبسوط کې راغلیدی: لکه چې زمونږ مړی دکفارو دمړو سره ګډشی نو اعتبار ولباس اوعلامې ته ستە.

یعنی پرهرمړی چی لباس اوعلامه دمسلمان وه، بس هغه مسلمان دئ، اوکه ورباندی لباس اوعلامه دکفر وه بیا کافر حسابل کیږی.

## نیکتایی دافغانی کلتور له نظره

دا یوحقیقت دئ چی نکتایی په افغانی کلتور اوفرهنګ کی هیڅ مقام اوځای نلری، ځکه دافغانستان خلګ دکوم وقت څخه چی مسلمانان شویدی، طبعی خبره ده چی ټول هغه دودونه اوعنعنات چی هغه غیر اسلامی او غیراخلاقی دی دوی پسی پری ایښی دی، که په کوم ځای کی دیو چالخوا یوغیر اسلامی دود اوعنعنه پرمخ باندی بیول کیږی هغه سړئ دافغانستان دخلګو نماینده ګی نشی کولای، ځکه د ریښتینو مسلمانانو نماینده ګی به رښتینئ مسلمان کوی، څوک چی کفارو په اصطلاحګانو باندی روبد وی هغه هیڅ کله دیو مسلمان هیواد دخلګو رښتینئ اومنل شوئ نماینده اودهغوی دفرهنګ اوکلتور مظهر نشی کیدلای، دافغانستان دټولو مسلمانو وګړو فرهنګ هغه شئ دئ کوم چی اسلام ورته راوستلئ دئ، اوهغه یی ددوی لپاره فرهنګ او دژوند آیین معرفی کړئ دئ، نیکتایی چی کوم شرعی حیثیت نلری نو افغانی حیثیت هم نلری، نکتایی چی په اسلام کی حرامه ده ، نو په افغانیت کی هم حرامه ده، مونږ چی دخپلو نیکه ګانو تاریخ ولولو نودابه راته له ورایه ښکاره شی ، چی هغوی نکتایی ګرسره نه پیژندل، بلکه دایو داسی لباس دئ، چی غرب اوشرق دمزدورانو اوهمفکره خلګو لخوا افغانستان ته راوړل شوئ دئ، هیڅ افغانی اصل اوریښه نلری، اوس یی هم هغه خلګ په غاړه کوی کوم ځانونو ته عصری مسلمانان Moderate Muslim وایی، خودا بیچاره ګان ددی څخه ناخبره دی چی عصری مسلمان څه معنی؟ عصری مسلمان دیته وایی: چی دعصر په مسائلو یی سرخلاص وی، دوقت اوعصر په حالاتو باندی پوهیږی په عصری اومدرن امکاناتو باندی خلګو ته داسلام په جوکاټ کی داخل اسلامی اوشرعی خدمات کوی، نه داچی دزمانی داهل سره دی دئ



www.nasirhashemi.blogfa.com

خپل اسلامی کلچر ته تغییر ورکړی، نوم دی هم نوئ کښیږدی کالی دی هم نوی واغوندی، خبری دی هم نوی نوی خبری کوی، کارونه دی هم نوی اوعجیب کارونه کوی، دغربیانو اوکفارو سره دی ځان مشابه کوی بس دغه عصری مسلمان شو، داسی نده ، داعصری مسلمان ندئ، دا داسی مسلمان دئ، چی دعصر قربان شوئ دئ، ددنیا دحالاتو اوکفری اصطلاحګانوښکار ګرځیدلئ دئ.

## توصیه

درنو اوقدرمنو لوستونکو! تاسو درسول اکرم صلی الله علیه وسلم احادیث اودفقهاؤ اقوال ولیدل چی لباس اوعلامی ته یی څونه اعتبار ورکړئ دئ، آن چی علامه اولباس یی یومعیار ګرځولئ دپاره دظاهری تشخیص دمسلمان اوکافر نومونږ ته لازمه ده چی دکفارو دهرقسم لباس څخه کوم چی په دوی پوری خاص وی، اویاددوی سره یوه عقیدتی ښه ولری ځان وساتو، بیاپه خاصه نکتایی چی په اړه یی تاسو پورتنئ تحقیق ولوستئ چی هم دقرآن اوحدیث اوفقه په تطابق اوهم دعلماؤ په تصریحاتوباندی حرامه ده، دامعلومه خبره ده چی مسلمان لکه په دینی اموراتو کی چی مستقل او ځان کفا دئ داغسی په فرهنګ اوکلتور کی هم ځان کفادئ، دیته ندئ محتاجه چی په خپل لباس اوظاهری شکل جوړولو کیدی دکفار څخه تقلید وکړی، اسلام هرڅه ورته ښودلیدی، که لباس دئ، که خوراک اوڅښاک، اوکه اقتصاد دئ، په ټولو کی الله پاک ورته ښه اوبد معرفی کړی، اودده دضرورت هرشی یی ده ته ورښودلئ دئ دهغه کیفیت اوکمیت یی ورته ډیر واضح بیان کړئ دئ، نو راشئ خپل اسلامی ، او اصیل افغانی لباس په تن کړئ داده کفارو اوګمراهانو دلباس څخه پرهیزوکړئ، إن شاء الله خدای پاک به دربانذی خپل رحمت وکړی او دنورو پخوانیو نیکمرغو انسانانو غوندی به نیکمرغی در په برخه کړی.


**خلاصه**:

**خلاصه نکتایی په اسلام کی حرامه ده که یی څوک په عقیده دصلیب او په کومه عقیده چی یی کفار تړی ، وتړی پدی باندی انسان کافر کیږی اوکه یی په هغه عقیده باندی ونه تړی نوبیا کافر کیږی خونه ، لیکن تړل یی حرام ځکه دی چی پدی کی دکفارو سره مشابهت راځی، دهغوی سره دځان مشابه کول حرام دی.**






www.nasirhashemi.blogfa.com





12/30/2013
www.nasirhashemi.blogfa.com


صفحه فرهنگ اسلامی را لایک بزنید

**http://nasirhashemi.blogfa.com**

**www.facebook.com/islamic.culture786**